UK Health
Security
Agency

NHS

# له COVID-19 واکسیناسیون

## وروسته څه طمع



د هغو خلکو لپاره معلومات
چې اوس یې د COVID-19
واکسین کړی

نور معلومات دلته ترلاسه کړئ nhs.uk/CovidVaccine

**هغه خلکو ته چې د کوروناویروس (COVID-19) له پیچلتیاو څخه خورا ډیر خطر لري د COVID-19 واکسین وړاندیز کیږي. دا ورقچه تاسو ته وایی چې د واکسین کولو څخه وروسته څه تمه ولرئ**

## سائیډ ایفکټس یعني اړخیزې اغېزې یې څه دي؟

د ټولو درملو په څیر، واکسین کولای شي د اړخیزو اغیزو لامل شي. چې اکثره یې کمزورې او لنډمهاله وي، او ټول خلک یې نه لري۔ د COVID-19 واکسین عامې اړخیزې اغیزې په یوه ورځ کې پیل کیږي او ممکن د څو ورځو لپاره دوام وکړي.

چې پکې دا شامل دي:

- په لاس کې د دردناک، دروند احساس او نرمښت درلودل چیرې چې تاسو انجیکشن لګولی وي
- د ستړیا احساس کول
- سردردي، درونو او ساړۀ

تاسو ممکن د فلو په څیر نښې هم ولرئ چې د یو یا دوه ورځو لپاره د لړزیدو او ریږدلو دورې به هم ورسره وي۔ په هرصورت، د تودوخې لوړه درجه دا هم په ګوته کوي چې تاسو COVID-19 یا بل انفیکشن لرئ (په 4 مخ کې مشوره وګورئ). تاسو کولای شئ آرام وکړئ او د پاراسیټامول نورمال خوراک واخلئ (په پاکټ کې موجوده مشوره تعقیب کړئ) چې په ښه احساسولو کې ستاسو سره وکړي۔

یو غیر معمولي اړخیزه اغیزه په بغل یا غاړه کې پړسیدلي غدې دي چې د لاس په ورته اړخ کې وي چې تاسو پکې واکسین کړی و دا تر 10 ورځو دوام کولای شي خو که زیات دوام وکړي نو باید خپل ډاکټر ووینئ۔ که تاسو د واکسین څخه وروسته په څو اونیو کې میموګرام ته اړتیا لرئ، نو تاسو باید د راتلو په وخت د دې ذکر وکړئ۔

# محتویٰ

سائیډ ایفکټس یعني اړخیزې اغېزې یې څه دي؟

ما اوریدلي چې واکسین کولای شي د غیر منظم حیض یا غیر متوقع وینې بهیدنې لامل شي؟

زه باید څه وکړم که زه د خپلو نښو په اړه اندیښمن یم؟

آیا کوم نورې جدي جانبي عوارض یې شته؟

آیا زه باید له واکسین کولو وروسته 15 دقیقې انتظار وکړم؟

زه خپل ورځني معمولات بیا کله پیلولای شم؟ آیا واکسین به ما خوندي کړي؟

**مهرباني وکړئ د خپل واکسین په اړه د نورو معلوماتو لپاره د محصول معلوماتي ورقچه ولولئ، په شمول د ممکنه جانبي عوارضو، د په لټولو Coronavirus Yellow Card۔**

**تاسو هم په دغه ویب سایټ د مشتبه جانبي عوارضو یا د Yellow Card app په ډاونلوډ کولو هم رپورټ کولای شئ۔**

**yellowcard.mhra.gov.uk**

## آیا کوم نورې زیاتې جدي جانبي عوارض يې شته؟

د زړه د پړسوب نادرې پیښې (د مایوکارډیټس یا پیریکارډیټس په نوم یادیږي) د Pfizer او Moderna COVID-19 واکسینونو وروسته راپور شوي. دا قضیې د واکسین کولو وروسته په څو ورځو کې په ځوانو نارینه وو کې لیدل شوي.

د دې خلکو ډیری روغ شوي او د آرام او ساده درملنې وروسته ښه احساس شوي.



## ما اوریدلي چې واکسین کولای شي د غیر منظم حیض یا غیر متوقع وینې بهیدنې لامل شي؟

د حیض ستونزې خورا عامې دي او د مختلف فاکتورونو له امله رامینځته کیدای شي پشمول د ذهني فشار او نورو لنډمهاله ناروغیو.

ځینې خلک ممکن د واکسین کولو څخه وروسته په میاشت کې د نورمال حیض څخه ډیره زیاته وینه تجربه کړي. په داسې حال کې چې د واکسین کولو وروسته د ځینو خلکو لخوا د حیض نور بدلونونه راپور شوي، داسې شواهد نشته چې دا دې د واکسین له امله وي.

## زه باید څه وکړم که زه د خپلو نښو په اړه اندیښمن یم؟

دا نښې په نورمله توګه تر یوې هفتې لږ دوام لري. که ستاسو نښې خرابې ښکاري یا تاسو اندیښنه لرئ، NHS 111 ته زنګ ووهئ. که تاسو د ډاکټر یا نرس څخه مشوره غواړئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو دوی ته د خپل واکسین په اړه وواياست (هغوی ته خپل د واکسیناسیون کارت وروښایاست) چې هغوی ستاسو صحیح ارزونه وکړای شي.

تاسو کولای شئ د Yellow Card scheme (ژیړ کارت سکیم) له لارې د واکسینونو او درملو شکمنې اړخیزې اغیزې هم راپور کړئ. تاسو کولای شئ دا آنلاین د Yellow Card لټولو له لارې ترسره کړئ یا د Yellow Card app په ډاونلوډ کولو هم (مهرباني وکړئ صفحه 2 وګورئ)



## آیا واکسین به ما خوندي کړي؟

د COVID-19 واکسینونه چې تاسو لګولي دي، ښودل شوي چې ستاسو د شدید COVID-19 ناروغۍ احتمال کموي.

دا ممکن ستاسو د بدن لپاره د محافظت رامینځته کولو لپاره د لومړي دوز څخه وروسته یو څو اونۍ وخت ونیسي. ستاسو بدن باید د اضافي خوراکونو وروسته ډیر چټک غبرګون پیل کړي (څو ورځې وروسته). د ټولو درملو په څیر، هیڅ واکسین په بشپړه توګه اغیزمن نه دی، نو تاسو باید د انتان څخه د مخنیوي لپاره د پام وړ احتیاطي تدابیرو ته دوام ورکړئ. د د واکسین کولو باوجود هم COVID-19 ولري، خو دا به کم جدي وي.

واکسین نشي کولای تاسو ته د COVID-19 انفیکشن درکړي، او بشپړ کورس به ستاسو د جدي ناروغه کیدو چانس کم کړي.




**خپل کارت خوندي ساتئ.**
**تاسو د NHS App هم چیک کولای شئ.**

**تاسو باید سمدستي طبي مشوره وغواړئ که تاسو تجربه کوئ:**

- د سینې درد
- ساه راماتېدل
- د زړۀ تېزه درزا، د زړۀ بې ارامي یا د زړه ډېر په لوړ اواز درزېدل

## آیا زه باید له واکسین کولو وروسته 15 دقیقې انتظار وکړم؟

کله چې موږ په لومړي ځل د Pfizer او Moderna واکسینونه کارول، خلک به د واکسین کولو وروسته د 15 دقیقو لپاره د لیدلو لپاره پاتې کېدل. د الرجیک عکس العمل خورا ټیټې شرحې له امله، یوازې هغه خلک چې د جدي الرجی تاریخ لري یا هغه چا چې د پخواني COVID-19 واکسین په اړه عکس العمل درلود باید دې وخت ته انتظار وباسي.

په هرصورت، د بې هوشۍ د خطر له امله، هیڅوک باید د واکسین لګولو لږ تر لږه 15 دقیقې وروسته موټر و نه چلوي.


## زه خپل ورځني معمولات بیا کله پیلولای شم؟

تاسو باید وکوالی شئ هغه فعالیتونه بیا پیل کړئ چې ستاسو لپاره نورمال دي تر هغه چې تاسو ښه احساس کوئ. که ستاسو لاس په ځانګړې توګه دردمند وي، تاسو ممکن د درنو شیانو پورته کولو ستونزمن ومومئ. که تاسو ځان ناروغه یا ډېر ستړی احساسوئ نو تاسو باید آرام وکړئ او د ماشینونو یا موټر چلولو څخه ډډه وکړئ.

## واکسیناسیون، د هغه خلکو حفاظت کوي

**که تاسو د COVID-19 واکسین په اړه نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ مهرباني وکړئ ولاړ شئ دلته:**

www.nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/coronavirus-vaccination/coronavirus-vaccine/




© Crown copyright 2023
V7. 3M MAR 2023 (APS). Product Code: COV23WTPAS Pashto
UK Health Security Agency gateway number: 2022816

دا ورقچه په بریل، BSL ویډیو، ستر پرنټ، د ایزي ریډ Easy Read بڼې په توګه هم موجوده ده او له 26 څخه زیاتو ژبو کې د راغوښتلو لپاره دلته موجوده ده www.healthpublications.gov.uk یا 0300 123 1002 ته زنګ ووهئ۔